مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سنگروال ۲۰۲۱/۰۵/۰۶

اور بلېږي

چې په ښکلي شنه لغمان مې اور بلېږي
په هر تن په هر افغان مې اور بلېږي

ورته سووځم د توپان وزرو کې ورک شم
چې د هر ښکلي په ځان مې اور بلېږي

الینګار مې تاج محل نه راته ښکلی
پل په پل د ګلستان مې اور بلېږي

الینګار مې د خوبونو ننداره ده
په زړګي او په ګریوان مې اور بلېږي

په رنګونو مې اور بل دی تالا کېږم
په ګلاب ګلاب جانان مې اور بلېږي

د تاریخ ځلي ته ناست یم رانړېږي
د وختونو په دوران مې اور بلېږي

د تاریخ «الینایان» ګوته په خوله دي
چې په هر یوه انسان مې اور بلېږي

لېږي لېږي اوښکې توي «بغلانګو» کړې
په لغمان او په بغلان مې اور بلېږي

سرې سکروټې مې د ژوب په تندي اوري
په هلمند او په بولان مې اور بلېږي

چې تیارې له رڼاګانو نه ساه اخلي
د وطن په «چراغا ن» مې اور بلېږي

ما د هر ښکلي قاتل په نښه کړی
چې د هر ښکلي په ځان مې اور بلېږي

ناوکی د غره لمنې شوې بې ګلو
د چنار په ښکلي شان مې اور بلېږي

سنګرواله د وطن مې الله مل شه
نن په ټول افغانستان مې اور بلېږي

۱۴۰۰\۲\۱۴ل لمریز کال
لندن

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ